# الكتاب الحافل ب

# فضائل الخلفاء الراشدين

## (د خلفاي راشدينو فضايل)

Ketabton.com

## تاليف : عامر حسن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ابو بکر رضی الله عنه فضایل

## ۱ـ ابو بکر رضی الله عنه هغه انسان وو چی د نبی صلی الله علیه وسلم په خبرو باندی به د هر چا نه خه پوهیده او ډیر فقاهت ورله الله ورکړی وو .

**عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: خَطَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ فَقَالَ: «إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ خَيَّرَ عَبْدًا بَيْنَ الدُّنْيَا وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ» قَالَ: «فَاخْتَارَ ذَلِكَ الْعَبْدُ مَا عِنْدَ اللَّهِ» قَالَ: فَبَكَى أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فَعَجِبْنَا لِبُكَائِهِ أَنْ خَبَّرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَبْدٍ خُيِّرَ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُخَيَّرَ، وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ أَعْلَمَنَا بِهِ،**

أخرجه البخاري (3654)

د ابو سعید خدري رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ورځ خطبه ورکړه او ویی فرمایل : چی الله تعالی بنده لره ددنیا یا اخرت په اختیارولو کی اختیار ورکړی دی لیکن دغی انسان ( نبي صلي الله عليه وسلم ) هغه څه غوره کړی دی چی د الله سره دی نو پدیکښ ابو بکر رضی الله عنه وژړل.

ابو سعید رضی الله عنه فرمایی: مونږ تعجب وکړ چی ابو بکر ولی ژاړی دی کی خو څه داسی خبره نشته صرف نبی صلی الله علیه وسلم دی باره کی خبر ورکړ چی یو انسان اخرت ته په دنیا باندی ترجیح ورکړه لیکن دی کی د ابو بکر رضی الله عنه فقاهت راښکاره شو او وروسته مونږ ته پته ولګیده چی ددی نه مراد د نبی صلی الله علیه وسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی نو مونږ ته معلومه شوه چی ابو بکر رضی الله عنه مونږکی ډیر فقیه او ژور علم والا انسان دی .

د صحیح مسلم په حدیث کی راځی **"قبل أن یموت بخمس لیال"**

چی دا خطبه نبی صلی الله علیه وسلم د خپل وفات نه پینځه ورځی مخکی ورکړی وه

## ۲ـپه ټولو صحابه وکی د نبی صلی الله علیه وسلم سره ډیر احسان کونکی انسان :

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایی:زما سره په ملګرتیا او مال کی ډیر احسان کونکی سړی ابو بکر دی .

ددی حدیث په تشریح کی د علماو اقول :

۱ـوقال القرطبي: هو من الامتنان، والمراد أن أبا بکر له من الحقوق، ما لوکان لغیره نظیرها لامتن بها،

امام قرطبی فرمایی: دا د امتنان ( احسان ) څخه دی او مطلب دادی چی د ابو بکر په ما باندی دومره حقوق دی که دا د بل چا وی نو په ما باندی به یی منت کولی .

ددی قول تایید د ترمذی دا حدیث کوی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



**"ما لأحد عندنا يد، إلا كافأناه عليها، ما خلا أبا بكر، فإن له عندنا يدا، يكافئه الله بها يوم القيامة"**

(أخرجه الترمذي (3661)، والديلمي في ((الفردوس)) (6328

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایي: مونږ سره چی هر چا مرسته کړی ده د هغه بدله مو ورته ورکړی ده مګر ابو بکر رضی الله عنه مونږ سره داسی مدد کړی دی چی د هغی بدله به الله تعالی د قیامت په ورځ ورکوی .

د طبرانی په روایت کی دی : چی د هغه یو احسان دا چی بلال یی ازادکړی وو ،بل دا چی د نبی صلی الله علیه وسلم سره یی هجرت کړی وو

بل روایت کی دی : چی ابو بکر ما سره په خپل نفس او مال سره مدد کړی دی او خپله لور یی ماته په نکاح کړی ده .

للطبراني "منة أعتق بلالا، ومنة هاجر بنبيه" وفي رواية له أيضا "واساني بنفسه وماله وأنكحني ابنته

المعجم الأوسط الصفحة أو الرقم

: 4/147

## ۳- د ابو بکر رضی الله عنه سره د نبی صلی الله علیه وسلم انتهایی محبت :

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایی : که چیرته ما د خپل رب نه علاوه  څوک خلیل ګرځولی نو ابو بکر به می ځان لپاره خیل ګرځولی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جندب بن عبدالله په حدیث کی راځی : چی نبی صلی الله علیه وسلم د مرګ نه پینځه ورځی مخکی فرمایلی وو:ستاسو څخه زما بعضی خلیلان او دوستان وو لیکن نن ورځ زه د هر خلیل د ملګرتیا نه د برات اظهارکوم ځکه که ما په دنیا کی ثوک خلیل ګرځولی نو ابو بکر به می ګرځولی وی.

لو كنتُ متَّخذًا من أَهْلِ الأرضِ خليلًا لاتَّخذتُ أبا بكرٍ خليلًا ، ولَكِن صاحبُكُم خليلُ اللهِ يعني نفسَهُ وفي رواية : إنِّي أبرأُ إلى كلِّ خليلٍ من خُلَّتِهِ ، ولَو كنتُ متَّخذًا من أهلِ الأرض خليلًا لاتَّخذتُ أبا بكرٍ خليلًا . وفي رواية : إنَّ اللَّهَ اتَّخذَني خليلًا كما اتَّخذَ إبراهيمَ خليلًا

صحيح البخاري الصفحة أو الرقم: 3904

ددی حدیث په خلاف یو بل حدیث کی راځی چی نبی صلی الله علیه وسلم د خپل وفات نه پینځه ورځی مخکی وفرمایل:

أخرج أَبُو الْحسن الْحَرْبِيّ فِي (فَوَائده) : عَن أبي بن كَعْب، رَضِي الله تَعَالَى عَنهُ، قَالَ: إِن أحدث عهدي بنبيكم قبل مَوته بِخمْس، دخلت عَلَيْهِ وَهُوَ يَقُول: (إِنَّه لم يكن نَبِي إلاَّ وَقد اتخذ من أمته خَلِيلًا، وَإِن خليلي أَبُو بكر ألاَ وَإِن الله اتَّخَذَنِي خَلِيلًا كَمَا اتخذ إِبْرَاهِيم خَلِيلًا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيڅ يو نبي نشته مګر د خپل امت څخه يې د ځان لپاره خليل مقرر کړی دی او زما خليل ابو بکر دی او لکه څنګه چې الله تعالی ابراهيم خپل دوست ګرځولی وو دغه .شان يې زه هم دوست ګرځولی يم .

د خلت نه مراد د محبت اعلی درجه ده هغه محبت چې په زړه باندی يې پوره کنټرول کړی وی سم دی زړه ته ننوتلی وی چې بل چا ته ځای نه ورکوی .

امام قسطلانی ددی حديث په شرح کی ليکی: أرجع إليه في المهمات وأعتمد عليه في الحاجات

د خليل نه مراد هغه شخص چې زه ورته په خپلو مهموکارونوکی رجوع کوم او د حاجتونو په پوره کولوکی په هغه اعتمادکوم .

ملا علی قاری فرمايي: وَفِي الْجُمْلَةِ هَذَا الْحَدِيثُ دَلِيلٌ ظَاهِرٌ عَلَى أَنَّ أَبَا بَكْرٍ أَفْضَلُ .الصَّحَابَةِ

دا حديث واضح دليل دی چې ابو بکر په ټولو صحابه وکی افضل دی .

## ۴ـابو بکر رضی الله عنه نبی صلی الله عليه وسلم ته د ټولو خلکو نه ډېرګران وو.

عمرو بن العاص رضی الله عنه فرمايي :ما د نبی صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه په خلکوکی تاته څوک ډېر محبوب دی؟هغه وفرمايل: عايشه . ما وويل : په سړوکی ، هغه وفرمايل: د عايشه پلار يعنی ابو بکر رضی الله عنهما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وویل بیا څوک ؟ هغه وفرمایل: عمر، نو بیا نبی صلی الله علیه وسلم ډیرکسان شمار کړل او زه ددی خبری نه د یری په وجه چپ شوم چی ما په اخیرکی حساب نکړی.

د بیهقی په روایت کی دی : عمرو بن العاص فرمایی چی نبی صلی الله علیه وسلم چی کله زه په غزوه ذات السلاسل کی امیر مقررکړم نو زما زړه کی دا خبره راغله چی نبی صلی الله علیه وسلم زه پداسی قوم باندی امیر مقررکړم چی هغی کی د ابوبکر اوعمر پشان کسان دی ددی نه دا معلومیږی چی د هغه په زړه کی زما تعظیم دی ددی د وجی می تری تپوس وکړ.

أنَّ رسولَ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّم بعَث عمرَو بنَ العاصِ على جيشِ ذاتِ السلاسلِ، قال : فأتَيتُه فقلتُ : أيُّ الناسِ أحَبُّ إليك ؟ قال : ( عائشةُ ) . قلتُ : منَ الرجالِ ؟ قال : ( أبوها ) . قلتُ : ثم مَن ؟ قال : ( عُمَرُ ) . فعَدَّ رجالًا ، فسكَتُّ مَخافَةَ أن يجعَلَني في آخرِهم .

الراوي : عبدالرحمن بن مل النهدي أبو عثمان | المحدث : البخاري | المصدر : صحيح البخاري

[الصفحة أو الرقم: 4358 | خلاصة حكم المحدث : [صحيح]

## ۵ـ د خیر په کارونوکی د ټولو صحابه وو څخه مخکی والی :

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بالصَّدَقَةِ، فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: وَعِنْدِي [ص:385] يَوْمَئِذٍ مَالٌ كَثِيرٌ؛ فَقُلْتُ: وَاللهِ! لأَفْضُلَنَّ أَبَا بَكْرٍ هَذِهِ الْمَرَّةَ. فَأَخَذْتُ نِصْفَ مَالِي وَتَرَكْتُ نِصْفَهُ، فَأَتَيْتُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؛ فَقَالَ: «هَذَا مَالٌ كَثِيرٌ؛ فَمَا تَرَكْتَ لِأَهْلِكَ؟» . قَالَ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



قُلْتُ تَرَكْتُ لَهُمْ نِصْفَهُ. وَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ بِمَالٍ كَثِيرٍ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا تَرَكْتَ لِأَهْلِكَ؟» ، قَالَ: تَرَكْتُ لَهُمُ اللهَ ورسوله

الراوي : عمر بن الخطاب | المحدث : ابن كثير | المصدر : مسند الفاروق

الصفحة أو الرقم: 264/1 | خلاصة حكم المحدث : فيه ضعف

. [إسناده ضعيف، والحديث حسن]

نبی صلی الله علیه وسلم یو ورځ صحابه و ته د صدقه حکم وکړ پدیکښ عمر رضی الله عنه وویل: نن ورځ ما سره ډیر زیات مال دی نو قسم په الله نن به زه د ابو بکر نه د خیر په کارکی مخکی کیږم

نو ما نیم مال راوړه او نیم می پریخوده ،نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل دا خوډیر مال دی تا خپل کور ته څه پریخودل؟هغه وویل: خپل اهل ته می نیم مال پریخوده ، پدیکښ ابو بکر رضی الله عنه هم ډیر مال راوړه نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا خو ډیر مال دی تا خپل اهل ته څه پریخودل که نه ؟ هغه وویل: ما هغوی ته الله او رسول پریخودل .نو عمر رضي الله عنه ابو بکر ته وویل : هرکارکي تا زمونږ نه سبقت کړی دی .

## ۶ـ د الله تعالی د فضل په حاصلولوکی د ابو بکر رضی الله عنه اوچت همت او هغه ته به د جنت د ټولو دروازو نه اوازکیږی :

ابو هریره رضی الله عنه فرمایی : ما د نبی صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی فرمایل یی:چا چی دوه جوړی د الله په لاره کی خرچ کړی نو د جنت ددروازو څخه به ورته اواز وکړی شی ای د الله بنده دا غوره دروازه ده نو څوک چی د مونځ ګوزارو څخه وو د مونځ ددروازی نه به ورته اواز وکړی شی او څوک چی د مجاهدینو څخه وو نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاد ددروازی نه به ورته اواز وکړی شی ،څوک چی د صدقه ورکونکو څخه وو نو د صدقه ددروازی نه به ورته اواز ورکړی شی ،څوک چی د روژه دارو څخه وو د ریان ددروازی نه به ورته اواز وکړی شی،پدیکښ ابو بکر رضی الله عنه وفرمایل:چا ته چی ددی ټولو دروازو نه اواز وکړی شی نو د هغه به هیڅ ضرورت پاتی نشی نو ای د الله رسول ایا کوم یوکس شته چی ددی ټولو دورازو نه به ورته اوازکیږی؟نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هو ای ابوبکر او زه د الله نه امید لرم چی ته ددغی کسانو څخه شی.

الراوي : أبو هريرة | المحدث : الألباني | المصدر : صحيح النسائي

الصفحة أو الرقم: 2438 | خلاصة حكم المحدث : صحيح

## ۷- د الله په لاره کی د ابو بکر رضی الله عنه قربانیانی :

عروه بن الزبیر وایی: ما د عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه چی مشرکانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ډیره سخته معامله په کوم ځای کی کړی ده ؟هغه وفرمایل:ما عقبه بن ابی معیط ولیده چی راغلی او نبی علیه السلام مونځ کولو نو خپل څادر یی د هغه په څټ کی واچوو او هغه له یی ساه بنده کړه پدیکښ ابو بکر راغلی هغه له یی دیکه ورکړه او نبی صلی الله علیه وسلم یی ترینه خلاص کړ او ویی فرمایل: ایا تاسو هغه انسان وژنی چی وایی زما رب الله دی او هغه د رب له طرفه تاسو ته واضح دلایل راوړی دی نو ابو بکر رضی الله عنه دلته داسی قربانی ورکړه چی هیچا نه وه ورکړی لکه څنګه چی په فرعونیانوکی یو مومن سړی د فرعون مخکی د موسی دفاع کړی وه

الراوي : عبد الله بن عمرو | المحدث : ابن حبان | المصدر : صحيح ابن حبان

(c) ketabton.com: The Digital Library



الصفحة أو الرقم: 6567 | خلاصة حكم المحدث : أخرجه في صحيحه

## ۸ـ د ابو بکر رضی الله عنه زهد :

هغه ډیر زاهد انسان وو په دنیا کی بی رغبتی د اخرت سوچ د هغه عادت وو تر دی چی کله به ورله غلامانو مال ورکړ د هغوی نه به یی تپوس کولو چی دا مو د کوم ځای نه کسب کړی دی یو ورځ یی د خپل غلام د لاس څه خوراک وخوړه بیا یی ترینه پوښتنه وکړه چی دا دی دکوم ځای نه ګټلی وو؟ هغه وویل ما به په جاهلیت کی کهانت کولو دا د هغی په پیسو می اغستی دی ،نو ابو بکر رضی الله عنه په خپل خوله کی ګوته ورداخل کړه او هر څه یی واپس التی کړل.

## ۹ـد ابو بکر لپاره د نبی صلی الله علیه وسلم غصه کیدل:

ابو دردا رضی الله عنه فرمایی: یوه ورځ د ابوبکر او عمر مابین کی په څه شی باندی لانجه وشوه

## ۱۰ـ ابو بکر رضی الله عنه د جنتیانو سردار دی :

علی رضی الله عنه فرمایی: نبی صلی الله علیه وسلم یو ورځ وفرمایل :ابو بکر او عمر د جنت د بوډاګانو سرداران دی د اولنو او اخیرنی البته د پیغمبرانو نه علاوه ،بیا یی وفرمایل : ای علی تر څو پوری چی دواړه ژوندی وی نو دا خبره ورته مه کوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ سَيِّدَا كُهُولِ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ، إِلَّا النَّبِيِّينَ وَالْمُرْسَلِينَ، لَا تُخْبِرْهُمَا يَا عَلِيُّ مَا دَامَا حَيَّيْنِ».

الراوي : أنس بن مالك | المحدث : الترمذي | المصدر : سنن الترمذي

الصفحة أو الرقم: 3664 | خلاصة حكم المحدث : حسن غريب من هذا الوجه

## ۱۱ـ په سړوکی د ټولو نه مخکی ابو بکر رضی الله عنه ایمان راوړی وو:

کله چی نبی صلی الله علیه وسلم مبعوث شو او الله تعالی ورته د نبوت ذمه داری وروسپارله نو په زنانه وکی د ټولو نه مخکی د هغه بیبی حضرت خدیجه رضی الله عنها بغیر د تردد نه ایمان راوړه او په سړوکی د ټولو نه مخکی ابو بکر رضی الله عنه ایمان راوړه نبی صلی الله علیه وسلم فرمایی چی ما هر چاته دعوت ورکړی دی نو هغه د سوچ او فکر نه بغیر ایمان ندی راوړی او لګ شان تردد یی کړی مګر ابو بکر رضی الله عنه ته چی کله ما د اسلام دعوت ورکړ بغیر د شک او تردد نه یی دعوت قبول کړ

ابراهیم نخعی رحمه الله فرمایی: په نبی صلی الله علیه وسلم باندی د ټولو نه مخکی ایمان حضرت ابوبکر راوړی دی .

عَنِ النَّخَعِيِّ قَالَ: أَوَّلُ مَنْ أَسْلَمَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبُو بَكْرٍ

## ۱۲ـنبی صلی الله علیه وسلم ابو بکر لره په مرض الوفات کی د مونځ امام مقرر کړی وو :

(c) ketabton.com: The Digital Library



عایشه رضی الله عنها فرمایی: چی نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ابو بکر ته امر وکړی چی خلکو ته د مونځ امامت ورکړی نو عایشه وفرمایل: ای د الله رسول ،که چیرته ابو بکر ستا په ځای باندی ودریده نو د ژړا د وجی به قرات ونکړی شی نو بیا نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ابو بکر ته حکم وکړی چی خلکو ته امامت ورکړی پدیکښ عایشه رضی الله عنها حفصه ته وویل ته ورته ووایه چی که ابوبکر ستا په ځای ودریږی نو د ژړا د وجی به مونځ ونکړی شی نو ته عمر ته حکم وکړه چی خلکو ته مونځ ورکړی ،نو حفصه ورته وویل: نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نه بیشکه تاسو د یوسف علیه السلام د زمانی ښځي یی ابو بکر ته ووایی چی خلکو ته امامت ورکړی

مُروا أبا بَكرٍ فليصلِّ بالنَّاسِ فقالَت عائشَةُ يا رسولَ اللَّهِ إنَّ أبا بَكرٍ إذا قامَ مقامَكَ لم يُسمِعِ النَّاسَ منَ البُكاءِ فأْمُرْ عمرَ فليُصلِّ بالنَّاسِ قالَت فقالَ مُروا أبا بَكرٍ فليصلِّ بالنَّاسِ قالت عائشةُ فقلتُ لحفصةَ قولي لَهُ إنَّ أبا بَكرٍ إذا قامَ مقامَكَ لم يُسمِعِ النَّاسَ منَ البُكاءِ فأْمُر عمرَ فليصلِّ بالنَّاسِ ، قالَت : فقالَ : مُروا أبا بَكرٍ فليصلِّ بالنَّاسِ ، قالت عائشةُ : فقلتُ لحفصةَ : قولي لَهُ : إنَّ أبا بَكرٍ إذا قامَ مقامَكَ لم يُسمِعِ النَّاسَ منَ البُكاءِ ، فأْمُر عمرَ فليصلِّ بالنَّاسِ ، ففعلَت حَفصةُ فقالَ رسولُ اللَّهِ صلَّى اللَّهُ عليهِ وسلَّمَ إنَّكنَّ لأنتنَّ صواحبُ يوسفَ مُروا أبا بَكرٍ فليصلِّ بالنَّاسِ فقالَتْ حفصةُ لعائشةَ ما كنتُ لأُصيبَ منكِ خَيرًا

الراوي : عائشة أم المؤمنين | المحدث : الألباني | المصدر : صحيح الترمذي

الصفحة أو الرقم: 3672 | خلاصة حكم المحدث : صحيح

## ـد نبی صلی الله علیه وسلم نه پس پدی امت کی غوره انسان :

(c) ketabton.com: The Digital Library



علی رضی الله عنه فرمایی:ایا زه تاسو ته پدی امت کی د نبی صلی الله علیه وسلم نه غوره انسان نه درښایم ؟هغه ابو بکر دی، بیا یی وفرمایل :ایا زه تاسو ته د ابو بکر نه پس پدی امت کی غوره انسان نه درښایم ؟هغه عمر دی .

عَلِيًّا يَقُولُ: أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ هَذِهِ الْأُمَّةِ بَعْدَ نَبِيِّهَا؟ أَبُو بَكْرٍ، ثُمَّ قَالَ: أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ هَذِهِ الْأُمَّةِ بَعْدَ أَبِي بَكْرٍ؟ عُمَرُ

الراوي : وهب بن عبدالله السوائي أبو جحيفة | المحدث : أحمد شاكر | المصدر : مسند أحمد

الصفحة أو الرقم: 147/2 | خلاصة حكم المحدث : إسناده صحيح

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: كُنَّا نَعُدُّ وَأَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَوَافِرُونَ: خَيْرُ هَذِهِ الْأُمَّةِ بَعْدَ نَبِيِّهَا أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ.

ابو هریره رضی الله عنه فرمایی: د صحابه کرامو په وجود کی به مونږ د نبی صلی الله علیه وسلم نه پس غوره انسانان ابو بکر او عمر ګڼل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳ـ ابو بکر رضی الله عنه د هغه لس صحابه کرامو ځخه دی چی په دنیا کی ورته د جنت بشارت میلاو شوی وو. چی دی صحابه کرامو ته عشره مبشره ویل کیږی.

سعید بن زید فرمایی: نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ابو بکر په جنت کی دی، عمر په جنت کی دی ، عثمان په جنت کی دی ،علی په جنت کی دی ، طلحه په جنت کی دی ، زبیر په جنت کی دی سعد په جنت کی دی ،عبدالرحمن په جنت کی دی ،هغه ته وویل شو: دا نهم پکښی څوک دی هغه وویل : زه یم .

سَعِيدَ بْنَ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ، يَقُولُ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَاشِرَ عَشَرَةٍ، فَقَالَ: «أَبُو بَكْرٍ فِي الْجَنَّةِ، وَعُمَرُ فِي الْجَنَّةِ، وَعُثْمَانُ فِي الْجَنَّةِ، وَعَلِيٌّ فِي الْجَنَّةِ، وَطَلْحَةُ فِي الْجَنَّةِ، وَالزُّبَيْرُ فِي الْجَنَّةِ، وَسَعْدٌ فِي الْجَنَّةِ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ فِي الْجَنَّةِ» فَقِيلَ لَهُ: مَنِ التَّاسِعُ؟ قَالَ: «أَنَا».

الراوي : سعيد بن زيد | المحدث : الوادعي | المصدر : صحيح دلائل النبوة

الصفحة أو الرقم: 203 | خلاصة حكم المحدث : حسن

بیا د ابو بکر رضی الله عنه مزید خصوصیت دادی چی هغه ته په انفرادی طور سره هم ډیرو ځایونوکی د جنت بشارت میلاو شوی دی لکه د مثال په طور دا حدیث ملاحظه کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبی صلی الله علیه وسلم یو ورځ صحابه‌کرامو ته وویل: پتاسوکی نن ورځ څوک روژه دی ؟ ابو بکر وویل :زه،بیا یی وفرمایل : پتاسوکی نن چا د مریض عیادت‌کړی دی ؟ ابو بکر وفرمایل : ماکړی دی ،بیا هغه وفرمایل : پتاسوکی نن څوک جنازی ته حاضر شوی دی؟ ابو بکر وویل: زه ،بیا هغه وفرمایل: چا نن مسکین ته خوراک ورکړی دی؟ ابو بکر وویل : ما .مروان وایی : مونږ ته د نبی صلی الله علیه وسلم دا خبره رارسیدلی ده چی په چاکی چی دا ټول صفات په یو ورځ‌کی راجمع شی هغه به جنتی وی .

مَنْ أَصْبَحَ الْيَوْمَ مِنْكُمْ صَائِمًا؟» قَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَنَا، قَالَ: «مَنْ عَادَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مَرِيضًا؟» » قَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَنَا، قَالَ: «مَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ جَنَازَةً؟» قَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَنَا، قَالَ: «مَنْ أَطْعَمَ الْيَوْمَ مِسْكِينًا؟» قَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَنَا. قَالَ مَرْوَانُ: بَلَغَنِي أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا اجْتَمَعَ هَذِهِ الْخِصَالُ فِي رَجُلٍ فِي يَوْمٍ، إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ

الراوي : أبو هريرة | المحدث : الألباني | المصدر : صحيح الأدب المفرد

الصفحة أو الرقم: 400 | خلاصة حكم المحدث : صحيح

عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ، قَالَ: انْطَلَقْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ حَائِطًا لِلأَنْصَارِ فَقَضَى حَاجَتَهُ، فَقَالَ لِي: «يَا أَبَا مُوسَى أَمْلِكْ عَلَيَّ البَابَ فَلاَ يَدْخُلَنَّ عَلَيَّ أَحَدٌ إِلَّا بِإِذْنٍ». فَجَاءَ رَجُلٌ فَضَرَبَ الْبَابَ، فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ فَقَالَ: أَبُو بَكْرٍ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذَا أَبُو بَكْرٍ يَسْتَأْذِنُ، قَالَ: «ائْذَنْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالجَنَّةِ». فَدَخَلَ وَبَشَّرْتُهُ بِالجَنَّةِ، وَجَاءَ رَجُلٌ آخَرُ فَضَرَبَ البَابَ، فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ فَقَالَ: عُمَرُ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذَا عُمَرُ يَسْتَأْذِنُ، قَالَ: «افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالجَنَّةِ». فَفَتَحْتُ البَابَ وَدَخَلَ وَبَشَّرْتُهُ بِالجَنَّةِ، فَجَاءَ رَجُلٌ آخَرُ فَضَرَبَ البَابَ، فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: عُثْمَانُ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذَا عُثْمَانُ يَسْتَأْذِنُ، قَالَ: «افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالجَنَّةِ عَلَى بَلْوَى تُصِيبُهُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الراوي : أبو موسى الأشعري عبدالله بن قيس | المحدث : الترمذي | المصدر : سنن الترمذي

الصفحة أو الرقم: 3710 | خلاصة حكم المحدث : حسن صحيح

ابو موسى اشعری رضی الله عنه فرمایی: زه د نبی صلی الله علیه وسلم سره لاړم تر دی چی هغه د انصارو یو باغ ته داخل شو او قضای حاجت یی کوو ماته یی وفرمایل: په دروازه بانده ودریږه او هیڅوک بغیر د اجازت نه مه راپریږده ،نو دیکښ یوکس راغلی او دروازه یی وټکوله ، ما وویل څوک یی؟هغه وویل : ابو بکر یم ،ما نبی صلی الله علیه وسلم ته وویل : ای د الله رسول ابو بکر اجازت غواړی ،هغه وفرمایل : اجازت ورته ورکړه او د جنت زیری هم ورکړه ،نو هغه راننوته او ما ورته دجنت بشارت ورکړه ....

## ۱۴ـ د نبی صلی الله علیه وسلم سره کلکه ملګرتیا او دوستی تر دی چی نبی صلی الله علیه وسلم به اکثر فرمایل: زه یو ځای ته لاړم او ابو بکر او عمر زه باهر ووتلم او ابو بکر او عمر ،زه ددی خبری تصدیق کوم او ابو بکر او عمر .

بينما رجلٍ يسوقُ بقرةً له ، قد حملَ عليها ، التفتَتْ إليه البقرةُ فقالتْ : إنِّي لم أُخلقْ لهذا . ولكنِّي إنَّما خُلِقتُ للحَرثِ . فقال النَّاسُ : سبحان

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللهِ ! تعجُّبًا وفزَعًا . أبقرةٌ تكلَّمُ ؟ فقال رسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّم .: فإنِّي أومنُ به وأبو بكرٍ وعمرُ .

الراوي : أبو هريرة | المحدث : مسلم | المصدر : صحيح مسلم

الصفحة أو الرقم: 2388 | خلاصة حكم المحدث : صحيح

د ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چی نبی صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی :يوکس خپله غوا راښکله او اراده يی کړی وه چی پری سور شی پديکښ غوا د هغه طرف ته مخ راوړووو او ويی ويل: مونږ ددی لپاره نه يو پيدا چی ته رابانديسوريږی مونږ خو د پټو د ايوی لپاره پيدا يو : نو د نبی صلی الله عليه وسلم ټولو ملګرو وويل سبحان الله ( دا څنګه کيدای شی چی غوا خبری وکړی ) نو نبی صلی الله عليه وسلم وفرمايل :پدی باندی زه ابو بکر او عمر يقين کوی حالانکه هغوی پدی وخت کی نه وو موجود

وضعَ عُمَرُ علَى سَريرِهِ، فَتَكَنَّفَهُ الناسُ، يدْعونَ ويُصَلُّونَ قبلَ أنْ يُرْفَعَ، وأنا فيهِم، فلم يَرُعْني إلا رجلٌ آخِذٌ مَنْكِبي، فإذا علِيُّ بنُ أبي طالِبٍ فَتَرَحَّمَ علَى عُمَرَوقال : ما خَلَّفْتَ أحَدًا أحبَّ إليَّ أنْ ألقَى اللَّهَ بمِثْلِ عملِهِ منكَ، وايمُ اللَّهِ، إنْ كنتُ لأظُنُّ أنْ يجعلكَ اللَّهُ معَ صاحِبَيْكَ، وحَسِبْتُ: إني كنتُ كَثيرًا أسمعُ النبيِّ صلَّى اللهُ عليه وسلَّم يقول : ( ذهبتُ أنا وأبو بكرٍ وعُمَرُ، ودخلتُ أنا وأبو بكرٍ وعُمَرُ، وخرجتُ أنا وأبو بكرٍ وعُمَرُ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



الراوي : عبدالله بن عباس | المحدث : البخاري | المصدر : صحيح البخاري

[الصفحة أو الرقم: 3685 | خلاصة حكم المحدث : [صحيح

ابن ابی ملیکه وایی :ما د ابن عباس رضی الله عنه نه اوریدلی دی فرمایل یی :کله چی د عمر رضی الله عنه جنازه په کټ کی کیخودلی شوه او خلک ترینه راټول شول چی دعا یی ورته کوله د هغه تعریفونه یی بیانول زه هم پدی کسانوکی وم پدیکښ یوکس زما په اوږه باندی لاس کیخوده چی ما وکتل هغه علی رضی الله عنه وو

نو هغه د عمر رضی الله عنه تعریف وکړ بیا یی وویل ای عمر تا د ځان پشان  څوک پرینخوده چی زه دا تمنی وکړم چی زه د الله سره میلاو شم او د هغه پشان عمل می کړی وی او زه دا یقین لرم چی الله به تا د خپلو دوه ملګرو سره یو ځای کړی ځکه ما به د نبی صلی الله علیه وسلم نه اکثره اوردیل : زه لاړه او ابو بکر او عمر راسره وو ،زه داخل شوم او ابو بکر او عمر راسره وو ،زه باهر ووتلم او ابو بکر او عمر راسره وو

## ۱۵ـد نبی صلی الله علیه وسلم نه پس د خلافت حقدار ابو بکر رضی الله عنه وو او پدی باندی د صحابه کرامو اتفاق شوی وو تر دی چی د نن ورځ پوری اهل سنت والجماعت پدی متفق دی چی د اولنی خلیفه ابو بکر رضی الله عنه وو البته شیعه ګان پدی کی اختلاف کوی چی د هغوی اختلاف لره هیڅ اعتبار نشته .

(c) ketabton.com: The Digital Library



عایشه رضی الله عنها فرمایی: نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : که ما ی خلیفه تقررکولي نو ابو بکر او عمر به می خلیفه ګان مقررکړی وی.

عَن عَائِشَة قَالَت قبض رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم وَلم يسْتَخْلف قَالَت وَقَالَ - 17 رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم لَو كنت مستخلفا أحدا لاستخلفت أَبَا بكر وَعمر

## ۱۶ـابو بکر رضی الله عنه په هغه خلفای راشدینوکی دی چی نبی صلی الله علیه وسلم د هغوی د طریقی د تابعداری حکم کړی وو.

نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی: زما نه پس په صحابه وکی د ابو بکر او عمر تابعداری وکړی.

او یو بل روایت کی دی :زما د سنتو تابعداری وکړی او د هغه خلفای راشدینو د سنتو چی هدایت ورته شوی دی .

اقْتَدُوا بِاللَّذَيْنِ مِنْ بَعْدِي مِنْ أَصْحَابِي أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ،»

الراوي : عبدالله بن مسعود | المحدث : الترمذي | المصدر : سنن الترمذي

الصفحة أو الرقم: 3805

امام مناوي رحمه الله فرمايي:

لحسن سيرتهما وَصدق سريرتهما وَفِيه إِشَارَة لأمر الْخلَافَة

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی حدیث معنی داده چی د هغوی د ښه سیرت او ریښتینی باطن په وجه د هغوی تابعداری وکړی او پدی کی خلافت ته اشاره ده .

## ۱۷ـابو بکر رضی الله عنه هغه صحابی دی چی د بدر په غزا کی ورسره ملایک ملګری وو او د کفارو مقابله یی ورسره کوله:

علی رضی الله عنه فرمایی: نبی صلی الله علیه وسلم مات د بدر په جنګ کی وفرمایل : پتاسوکی د یو تن سره جبریل ملګری دی او د بل سره میکایل او اسرافیل یو غټ ملایک دی چی هغه هم دی جنګ کی حاضر شوی دی

مَعَ أَحَدِكُمَا جِبْرِيلُ , وَمَعَ الْآخَرِ مِيكَائِيلُ , وَإِسْرَافِيلُ مَلَكٌ عَظِيمٌ يَشْهَدُ الْقِتَالَ "

الراوي : علي بن أبي طالب | المحدث : الهيثمي | المصدر : مجمع الزوائد

الصفحة أو الرقم: 61/9 | خلاصة حكم المحدث : رجاله رجال الصحيح

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فضائل عمر رضي الله عنه

## ۱ـ د عمر رضی الله عنه صفت په تورات او انجیل کی هم راغلی وو.

ابن الجوزی رحمه الله د عمر رضی الله عنه د موذن نه واقعه نقل کړی ده چی عمر رضی الله عنه د بعضی یهودی عالمانو پخوا باندی تیر شو او ویی فرمایل:ایا ستاسو په کتابونوکی زمونږ څه تذکره شته ؟هغوی وویل :ستاسو د صفاتو او اعمالو تذکره پکښ شته لیکن نومونه مو پکښ نشته ،عمر رضی الله عنه وفرمایل: نو هغه کوم صفت دی چی په ماکی موجود دی هغوی وویل:د وسپنی ښکر ،عمر رضی الله عنه وویل ددی نه څه مطلب؟هغه وویل :ته ډیر سخت مشر یی .

نو عمر رضی الله عنه :الله اکبر وویله .

عن الأقرع مؤذن عمر رضي الله عنه أن عمر مرّ على الأسقف، فقال: "هل تجدونا في شيء من كتبكم؟ " فقالوا

صفتكم وأعمالكم، ولا نجد أسماءكم". قال: "كيف تجدوني؟ " قال: "قرن من حديد"، قال: "قرن من حديد ماذا؟ " قال: "أمير شديد"، قال عمر: "الله أكبر الحمد لله"

الراوي : عمر بن ربيعة | المحدث : الهيثمي | المصدر : مجمع الزوائد

الصفحة أو الرقم: 68/9 | خلاصة حكم المحدث : رجاله ثقات

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲ـ د جاهلیت په دورکی هم د عمر رضی الله عنه ډیر شان شوکت وو او په خلکو باندی یی مشری کړی وه

امام ذهبی فرمایی: قال الذهبي: "كان من أشرف قريش، وإليه السفارة كانت في الجاهلية، وذلك أن قريشاً كانت إذا وقع بينهم حرب، أو بينهم وبين غيرهم، بعثوه سفيراً"1. 1 الذهبي: التهذيب 3 / ق 177/ أ، ابن عبد البر: الاستيعاب 1145/3.

هغه په قریشوکی یو عزتمند سړی وو ،په جاهلیت کی هغه ته د سفارت ذمه داری ورکړی شوی وه ،هغه داسی چی کله به د قریشو مابین کی جنګ واقع شو یا د هغوی او نورو قومونو مابین کی نو عمر رضی الله عنه به یی د سفیر په طور مقرر کړ.

## ۳ـ نبی صلی الله علیه وسلم د هغه لپاره دعا کړی وه چی ای الله اسلام ته د عمر په وجه عزت ورکړی :

عن ابن عمر أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: "اللهم أعزَّ الإسلام بأحب هذين الرجلين إليك؛ بأبي جهل أو بعمر بن الخطاب"، قال: "وكان أحبهما إليه عمر".

الراوي : عبدالله بن عمر | المحدث : الترمذي | المصدر : سنن الترمذي

الصفحة أو الرقم: 3681 | خلاصة حكم المحدث : حسن صحيح غريب

ابن عمر رضی الله عنه روایت کوی چی نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی وو: ای الله پدی دوه کسانوکی چی کوم کس تاته ډیر محبوب وی د هغه په وجه اسلام ته عزت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړه یعنی ابو جهل او عمر بن الخطاب .نو هغه فرمایی چی الله ته ډیر محبوب عمر رضی الله عنه وو.

## ۳ـنبی صلی الله علیه وسلم د عمر لپاره دعاکړی چی ای الله دده د زړه نه بغض او نفرت وباسه او ایمان پکښ داخل کړه

ابن عمر رضی الله عنهما فرمایی: کله چی عمر مسلمان شو نو نبی صلی الله علیه وسلم په سینه کی ووهه او دری ځل یی دا دعا ولوسته :ای الله دده د سینی نه هر قسم نفرت وباسی او په ایمان سره یی بدل کړی .

ابن عمر أنّ رسول الله صلى الله عليه وسلم ضرب صدر عمر حين أسلم ثلاث مرات وهو يقول: "اللهم أخرج ما في صدره من غلٍّ وأبدله إيماناً"، يقولها ثلاثاً. ذكره الذهبي .في التذهيب

تهذيب التهذيب 3 / ق 177 / أ.

## ۴ـ عمر رضی الله عنه هغه انسان چی نبی صلی الله علیه ورته په دنیاکی د جنت بشارت ورکړیدی :

عن أبي هريرة رضي الله عنه وأرضاه قال: (بينما نحن عند رسول الله صلى الله عليه وسلم إذ قال: بينا أنا نائم رأيتني في الجنة -ورؤيا الأنبياء حق- فإذا امرأة تتوضأ إلى جانب قصر، فقلت: لمن هذا القصر؟ قالوا: لـ عمر، فأردت أن أدخله فذكرت غيرته فوليت مدبراً).

(c) ketabton.com: The Digital Library



الراوي : أبو هريرة | المحدث : البخاري | المصدر : صحيح البخاري

[الصفحة أو الرقم: 3242 | خلاصة حكم المحدث : [صحيح

ابو هريره رضی الله عنه فرمايی: مونږ د نبی صلی الله عليه وسلم په مجلس کی ناست وو نو هغه وفرمايل :زه ويده وم پديکښ ما خوب کی وليدل چی زه جنت ته تلی يم ،او ګورم چی يوه زنانه د يوی بنګلی په ګوټ کی اودس کوی ،ما پوښتنه وکړه ،دا کور(بنګله) د چا ده ؟هغی وويل: د عمر ،نو ما اراده وکړه چی ورداخل شم ليکن بيا ماته د عمر رضی الله عنه غيرت راياد شو نو راوپس شوم،کله چی نبی صلی الله عليه وسلم دا خوب عمر رضی الله عنه ته بيان کړ نو هغه وژړل او ويی فرمايل: ای د الله رسول صلی الله عليه وسلم ايا پتا باندی به ما له غيرت راځی؟

## ۵۔ عمر بن الخطاب هغه انسان چی نبی صلی الله عليه وسلم ورته د خپل علم نه څه حصه ورکړی وه :

عبد الله بن عمر رضي الله عنه وأرضاه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: (بينا أنا نائم أتيت بقدح لبن فشربت حتى إني لأرى الري يجري من أظفاري، ثم أعطيت فضلي عمر بن الخطاب، قالوا: فما أولته يا رسول الله؟ قال: العلم).

الراوي : عبدالله بن عمر | المحدث : البخاري | المصدر : صحيح البخاري

الصفحة أو الرقم: 7032

د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت دی چی نبی صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی :ما په خوب کی وليدل چی د پيو لوخی راته راکړی شو ما هغه وڅکښل تر دی چی ځان می ښه موړ کړ او موړوالی می په خپلو نوکانوکی محسوس کړ، بيا می باقی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتی شوی پی عمر رضی االله عنه ته ورکړل، صحابه کرامو وویل : ددی تاسو څه تعبیر کوی ای د الله رسول: هغه وفرمایل: ددی تعبیر علم دی .

نو ددی حدیث نه دوه فایدی معلومی شوی :

۱: په خوب کی د شیدو لیدلو نه مراد علم دی .

۲: عمر رضي الله عنه دي څومره علم حاصل کړی دی دا یی د نبی صلی الله علیه وسلم د چینی نه حاصل کړی دی چی هغه قران او حدیث دی .

## ۶ـد عمر رضی الله عنه په وجه مسلمانان قوی شوی وو او ددین دعوت یی په ښکاره شروع کړی وو :

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وأرضاه قال: ما زلنا أعزة منذ أسلم عمر بن الخطاب رضي الله عنه وأرضاه،

الراوي : قيس بن أبي حازم | المحدث : البخاري | المصدر : صحيح البخاري

الصفحة أو الرقم: 3863 | خلاصة حكم المحدث : [صحيح]

عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمایی: کله نه چی عمر رضی الله عنه ایمان راوړی دی د هغی ورځ نه مونږ قوی او مضبوط شوی یو.

عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُود يَقُولُ: مَا كُنَّا نَقْدرُ عَلَى أَنْ نُصَلِّيَ عِنْدَ الْكَعْبَةِ حَتَّى أَسْلَمَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، فَلَمَّا أَسْلَمَ قَاتَلَ قُرَيْشًا حَتَّى صَلَّى عِنْدَ الْكَعْبَةِ وَصَلَّيْنَا مَعَهُ، وَكَانَ إِسْلَامُ عُمَرَ بَعْدَ خُرُوجِ مَنْ خَرَجَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَرْضِ الْحَبَشَةِ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل روایت کی عبدالله بن مسعود فرمایی: د عمر د اسلام نه مخکی به مونږ د کعبی په خوا کی مونځ نشوکولی بیا چی کله هغه مسلمان شو نو د قریشو سره یی جګړه وکړه او دکعبی سره یی مونځ وکړ مونږ هم ورسره مونځ اداکړ او هغه په هغه وخت کی مسلمان شوی وو کله چی نبی صلی الله علیه وسلم بعضی صحابه حبشه ته لیږلی وو.

## ۷ـ عمر بن خطاب رضی الله عنه یو ډیر بهادر او قوی انسان وو الله تعالی ورته د علم،ایمان ،تقوی ، زهد باوجود بدنی قوت هم ورکړی وو چی خلک به ترینه سخت ویریدل پدی وجه کله چی مسلمان شو نو د مشرکانو زور مات شو او په خپل دور خلافت کی به ترینه خلک سخت یریدل چا به ددین خلاف کار نشوکولی:

عبد الله بن عمر أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: (رأيت في المنام أني أنزع بدلو فجاء أبو بكر فنزع ذنوباً أو ذنوبين نزعاً ضعيفاً والله يغفر له، ثم جاء عمر بن الخطاب فاستحالت غرباً) يعني: وما ترك شيئاً في البئر (فلم أر عبقرياً يفري فريه) يعني حكيم كان يدقق النظر ويخطط تخطيطاً سديداً.

الراوي : عبدالله بن عمر | المحدث : البخاري | المصدر : صحيح البخاري

الصفحة أو الرقم: 3682 | خلاصة حكم المحدث : [صحيح]

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایی: ما خوب ولیده چی زه دکوهی نه اوبه راوباسم ،نو ما یوه بوشکه راوویسته ،بیا ابو بکر راغلی نو یو دوه بوشکی هغه هم راویستلی لیکن په ډیرکمزوری رایستلو سره او الله دی هغه ته مغفرت وکړی ،بیا عمر رضی الله عنه راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



، او ښې ډیرې اوبه یې راویستلې (کوهې یې راخالې کړ) نو ما د هغه په شان تکتیکی انسان ندی لیدلی .

فایده : پدی کی دیته اشاره وه چې د ابو بکر رضی الله عنه دور خلافت به کم وی او عمر رضی الله عنه به ډیر وخت خلافت کوی .

## ۸- عمر رضی الله عنه ډیر هیبتی انسان وو الله تعالی ورته رعب ورکړی وو خلک به ترینه سخت ویریدل:

سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه فرمايي:نبی صلی الله علیه وسلم پداسی وخت کی د نبی صلی الله علیه وسلم کور ته د راننوتو اجازت وغوښته چې د قریشو بعضی زنانه د نبی صلی الله علیه وسلم په کور کی ناستی وی د هغه سره یی خبری کولی او خپل اوازونه یی د هغه په اواز اوچت کړی وو،کله چی عمر راننوته نو ټولی پاڅیدلی او زر زر یی حجابونه واغوستل ،نو نبی صلی الله علیه وسلم په خندا شو ،عمر وویل: اي ی الله رسول الله تعالي دی ستا خندا همیشه قایمه وساتی ،

نو نبي صلي الله علیه وسلم وفرمایل:زه پدوی باندی تعجب کوم ، کله چی زما خواته ناستی وی او ستا اواز یی واوریده نو زر یی حجاب واچوو،نو عمر وفرمایل: ای د الله رسول ته ډیر حقدار وی پدی چی ستا نه یریدلی وی ،بیا یی وفرمایل: ای د ځانونو دشمنانو د رسول الله نه نه یریږی او زما نه ویریږی ؟هغوی وویل: هو ستا نه ځکه ویریږو چی ته ډیر سختی کونکی یی.نو نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل:ای عمر ته چی په کومه لاره مزل کوی نو شیطان په هغی لاره نه ځی بلکی بله لاره اختیاروی.(ستا نه ویریږی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: عجبت من هؤلاء اللائي كن عندي، فلما سمعن صوتك ابتدرن الحجاب، فقال عمر: فأنت كنت أحق أن يهبن يا رسول الله! ثم قال عمر: يا عدوات أنفسهن! أتهبنني ولا تهبن رسول الله صلى الله عليه وسلم؟ فقلن: نعم، أنت أفظ وأغلظ).

(استأذن عمر بن الخطاب على رسول الله صلى الله عليه وسلم وعنده نسوة من قريش يكلمنه ويستكثرنه عالية أصواتهن على صوته، فلما استأذن عمر قمن فبادرن الحجاب، فأذن له رسول الله صلى الله عليه وسلم، فدخل عمر ورسول الله يضحك)

الراوي : سعد بن أبي وقاص | المحدث : البخاري | المصدر : صحيح البخاري

[الصفحة أو الرقم: 3683 | خلاصة حكم المحدث : [صحيح

په حديث کی نور فوايد:

۱ـ د نبی صلی الله علیه وسلم سره د صحابه کرامو ادب او احترام : ځکه چی عمر رضی الله عنه نبی صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای د الله رسول ته ډیر حقدار یی چی ستا نه ویریږی زما په نسبت .

۲ـ د زنانه و سره به نرمی کولی شی: نبی صلی الله علیه وسلم فرمایی: په زنانه و باندی شفقت او د هغوی سره نرمی کوی .

بل روایت کی فرمایی: پتاسوکی بهترین انسان هغه دی چی د خپلی ښځی لپاره غوره وی او زه پتاسوکی د خپل اهل لپاره غوره یم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹- عمر بن خطاب یو محدث انسان وو الله تعالی به ورته الهام کوو په زړه کی به یی ورته د خیر خبری اچولی همدا وجه وه چی د عمر رضی الله عنه اکثره فیصلی به د قران مطابقی وی

کله عمر رضی الله عنه دنبی صلی الله علیه وسلم نه مطالبه وکړه چی زنانه و له حجاب کول پکار دی نو الله تعالی د پردی حکم نازل کړ

کله چی نبی صلی الله علیه وسلم په منافقانو باندی جنازه کوله نو عمر رضی الله عنه منع کړ او ویی ویل : پدوی باندی جنازه مه کوه دا خو د الله دشمنان دی ،نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ای عمر ما پریږده چی جنازه پری وکړم ځکه الله تعالی ماته ددی اختیار راکړی دی الله فرمایلی دی : که ته ددوی لپاره اویا ځل بخشش وغواړی نو الله به ورته بخشش ونکړی ، نو قسم په الله که ماته دا پته ولګی چی د اویا ځل نه ډیر بخشش غوښتل ددوی د مغفرت سبب کیدای شی نو زه به دا کار وکړم ،نو الله تعالی د عمر رضی الله عنه په موافقت کی دا ایت نازل کړ: {وَلا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلا تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ} [التوبة:84]

اي نبي پدی منافقانوکی په هیڅ یو تن جنازه مه کوه مه د هغه په قبر باندی د بخشش غوښتلو لپاره ودریږی.

دغه شان نور ډیر واقعات دی چی قران پکښ د عمر رضی الله عنه د موقف او رای مطابق نازل شوی دی چی هغی ته موافقات عمریه وایی:

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایی: په مخکنی امتونوکی بعضی خلک وو چی پیغمبران نه وو لیکن الله به ورته الهام کولو ،که دغی کسانو څخه زما په امت کی څوک وی نو هغه عمر بن خطاب دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library


قال أبو هريرة: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (لقدكان فيما قبلكم من الأمم ناس محدثون من غير أن يكونوا أنبياء، فإن يكن في أمتي أحد فإنه عمر)

الراوي : أبو هريرة | المحدث : البخاري | المصدر : صحيح البخاري

الصفحة أو الرقم: 3689 | خلاصة حكم المحدث : [صحيح]

## ۹- عمر رضی الله عنه لکه څنګه چی هغه د اسلام قبلولو نه مخکی په جاهلیت کلک ولاړ و دغه رنګه د اسلام راوړلو نه پس هغه په دین باندی کلک ولاړ وو چی ددین په ټولو احکامو به یی عمل کولو په هغی کی هیڅ کمی کوتاهی به یی نه برداشت کوله تر دی چی کله هغه زخمی شو او د بی هوشی په حالت کی وو خلکو ورته وویل : ای امیر المومنین د مونځ وخت دی هغه زر رابیدار شو او ویی فرمایل: چی څوک مونځ نه کوی د هغه په اسلام کی هیڅ برخه نشته ،نو په زخمی حالت کی یی مونځ اداکړی چی د زخم نه یی وینه روانه وه.

عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه قال: قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: (بينما أنا نائم رأيت الناس عرضوا علي وعليهم قمص، فمنها ما يبلغ الثدي، ومنها ما يبلغ دون ذلك، وعرض علي عمر بن الخطاب وعليه قميص يجتره.
قالوا: فما أولته يا رسول الله؟ قال: أولته الدين).

(c) ketabton.com: The Digital Library



الراوي : أبو سعيد الخدري | المحدث : البخاري | المصدر : صحيح البخاري

الصفحة أو الرقم: 7009

نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي:ما خوب وليده چی څه خلک ماته پیش کړی شو او هغوی قمیصونه اغوستی وو، بعضی قمیصونه د سینو پوری رسیدلی وو، او بعضی ددی نه لاندی حصی پوری ، او ماته عمر رضی الله عنه راښکاره شو چی یو اوږد قمیص یی اچلی وو چی راښکه یی،صحابه کرامو تپوس وکړ ای د الله رسول ددی څه تعبیر دی ؟هغه وفرمایل :دینداری.

## ۱۰ـد عمر رضی الله عنه زهد ،سادګی او تقوی:

عمر بن خطاب رضی الله عنه په دنیا کی انتهایی زاهد او بی رغبته وو د ډیری مالداری باوجود یی په ځان باندی خرچ نه کوو بلکی اکثر مال به یی په فقیرانو او مسکینانو خرچ کوو او د بیت المال د مال خاص خیال به یی ساته په ځان باندی یی د خلافت باوجود تکلیف برداشت کوو

یوه ورځ د روم سفیر راغلی او د عمر رضی الله عنه باره کی یی پوښتنه وکړه چی د امیر المومنین کور او محل چیرته دی؟

خلکو ورته وویل: چی هغلته دی پدغه وخت کی عمر رضی الله عنه د یوی ونی لاندی ویده وو.هغی سړی وویل: زه د امیر المومنین دکور تپوس کوم د عام غریب سړی نه ،خلکو ورته وویل: همدغه امیر المومنین دی ،چی ورغلی ګوری چی خپلو څپلو ته یی سر ایخودی دی ،نو دی سړی تعجب وکړو چی دا امیر المومنین دی ، خلکو وویل: هو همدا د ی،هغه وویل: ای عمر تا حکمرانی وکړه نو عدل دی نافذکړ او په عدل سره امن راغلی نو خوبونه دی وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱ـ د عمر رضی الله عنه تذکره په قران کریم کی :

عَنْ مُجَاهِدٍ: {وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِينَ} [التحريم: 4] قَالَ: عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ.

د مجاهد رحمه الله نه ددی ایت په تفسیرکی نقل دی :چی بیشکه الله تعالی د نبی صلی الله علیه وسلم مددګار دی او جبریل او په مومنانوکی نیک سړی .

هغه فرمایی: د نیک سړی نه مراد عمر بن خطاب رضی الله عنه دی .

## ۱۲ـ الله تعالی د عمر رضی الله عنه په زړه کی حق اچولی وو او د هغه په ژبه یی حق ویل جاری کړی وو :

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایی:بیشکه الله تعالی د عمر په زړه او ژبه باندی حق ویل جاری کړی دی .

ابن عمر رضی الله عنهما فرمایی:کله چی به څه مساله پیښه شوه نو خلکو به هم د خپل موقف اظهار وکړ او عمر به هم لیکن قران به د عمر رضی الله عنه د موقف په تاییدکی نازل شو.

إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ جَعَلَ الْحَقَّ عَلَى قَلْبِ عُمَرَ وَلِسَانِهِ " قَالَ: وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: " مَا نَزَلَ بِالنَّاسِ أَمْرٌ قَطُّ فَقَالُوا فِيهِ: وَقَالَ فِيهِ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: - أَوْ قَالَ عُمَرُ - إِلَّا نَزَلَ الْقُرْآنُ عَلَى نَحْوٍ مِمَّا قَالَ عُمَرُ "أخرجه أحمد في "الفضائل" (313) و (314) ، والترمذي (3682) ، وابن حبان (6895)وسنده حسن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳ـ د الله د خوف د وجی د عمر رضی الله عنه انتهایی ژړا :

عمر رضی الله عنه به د الله د یری نه ډیر ژړل کله چی به یی د قران تلاوت کولو ژړلی به یی اوکله په مونځ کی کله د شپی په تهجدو کی

تر دی چی عبدالله بن عیسی فرمایی: د عمر رضی الله عنه په مخ کی د ژړا په وجه دوه تور خطونه جوړ شوی وو.

عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عِيسَى قَالَ: كَانَ فِي وَجْهِ عُمَرَ خَطَّانِ أَسْوَدَانِ مِنَ الْبُكَاءِ.فضایل الصحابة : 318

## ۱۴ـ عمر رضی الله عنه ته د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا دعا چی د خوشحالی زندګی ورته الله ورکړی او د شهادت مرګ :

ابن عمر رضی الله عنه فرمایی: نبی صلی الله علیه وسلم د عمر په غاړه باندی سپینی جامی ولیدلی نو پوښتنه یی وکړه :چی قمیص دی نوی دی که زوړ؟عمر وویل: بلکی نوی دی ،نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نوی جامی واغونده ،ښایسته زندګی تیره کړه ،او د شهادت مرګ حاصل کړه .

ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّاب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ثَوْبًا أَبْيَضَ، فَقَالَ: «أَجَدِيدٌ قَمِيصُكَ أَمْ غَسِيلٌ؟ »، فَقَالَ: بَلْ جَدِيدٌ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْبَسْ جَدِيدًا، وَعِشْ حَمِيدًا، وَمُتْ شَهِيدًا» سنده حسن .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵ـ د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ډیر سخت اهتمام:

عمر رضی الله عنه پخپله هم د شریعت د احکامو ډیر سخت تابعدار وو او نورو خلکو ته به یی هم د شریعت د احکام حکم کولو او د بدو کارونو نه به یی په سختی سره منع کوله او دا یو عظیم کار دی چی ددی امت ته خاصه دی امت ته چی غوره والی میلاو شوی هغه پدی وجه چی دوی به نیکی ته دعوت ورکوی او بدی نه به منع کوی نو عمر رضی الله عنه هم پدی کارکی سبق کړی وو

د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی : الله دی په عمر باندی رحم وکړی کله چی هغه زخمی کړی شو نو پدی حالت هغه یوکس ولیده چی پرتوګ یی دګیټو نه ښکته کړی وو عمر رضی الله عنه ورته وفرمایل: ای سړیه ،ویښته دی کم کړه ،او پرتوګ پینڅی اوچتی کړه ،ځکه پدی سره ستا دکپړو حفاظت راځی ، او د الله د حکم تابعداری ده .

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: رَحِمَ اللَّهُ عُمَرَ، إِنَّهُ لَمَّا طُعِنَ تِلْكَ الطَّعْنَةَ رَأَى غُلَامًا قَدْ أَسْبَلَ إِزَارَهُ، فَقَالَ: يَا غُلَامُ، خُذْ مِنْ شَعْرِكَ، وَارْفَعْ إِزَارَكَ، فَإِنَّهُ أَبْقَى لِثَوْبِكَ، وَأَتْقَى لِرَبِّكَ عَزَّ وَجَلَّ.

## ۱۶ـ د عمر رضی الله عنه سره د صحابه کرامو ډیر زیات محبت :

د مومنانو صفت دادی چی د یو بل سره به محبت کوی او دا محبت به د الله لپاره وی څوک چی د الله لپاره محبت وکړی نو الله به یی د قیامت په ورځ د خپل سوری لاندی کړی هغه ورځ چی خلک به په خولوکی ډوب وی او نمر به رانژدی شوی وی د صحابه و باره کی الله تعالی فرمایلی دی چی دوی په یو بل باندی شفقت کوی او د کفارو سره سختی کوی نو ددی جملی څخه د صحابه کرامو محبت د عمر رضی الله عنه سره هم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمایی: زما د عمر رضی الله عنه سره دومره مینه وه چی زه د هغه د مینی په وجه د الله نه ویردیدلی وم ،بیشکه عمر خو یو مضبوط دیوال وو چی اسلام به پکښ ننوته او بیا به ترینه نه راوته ،لیکن کله چی عمر وفات شو دغه دیوال مات شو ،اوکله چی د نیکانو تذکره کیږی عمر به پکښ خامخا وی .

357 - حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ قَالَ: حَدَّثَنِي عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ حَمَّاد قثنا وُهَيْبٌ قثنا ابْنُ عَوْنٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُود: لَقَدْ أَحْبَبْتُ هَذَا الرَّجُلَ حُبًّا قَدْ خِفْتُ اللَّهَ فِي حُبِّهِ، إِنَّ عُمَرَ كَانَ حَائِطًا حَصِينًا، يَدْخُلُهُ الْإِسْلَامُ وَلَا يَخْرُجُ مِنْهُ، فَلَمَّا قُتِلَ عُمَرُ انْثَلَمَ الْحَائِطُ، إِذَا ذُكِرَ الصَّالِحُونَ فَحَيَّ هَلَا بِعُمَرَ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عثمان رضی الله عنه فضایل

## ۱ـ نبی صلی الله علیه وسلم ورته په دنیاکی د جنت بشارت ورکړی وو:

ابو موسی اشعری رضی الله عنه فرمایی: نبی صلی الله علیه وسلم یو ورځ با غ ته داخل شو او زه یی په دروازی باندی ودرولم ، پدیکښ یو صحابی راغلی دداخلیدو اجازت یی وغوښته نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : اجازت ورته وکړه او د جنت زیری هم ورته ورکړه ،نو هغه ابو بکر وو،بیا یو بل کس راغلی اجازت یی وغوښته هغه وفرمایل: اجازت ورته ورکړه او د جنت زیری هم نو هغه عمر وو،بیا یو بل کس راغلی نبی صلی الله علیه وسلم لګ ساعت چپ شو بیا یی وفرمایل: اجازت ورته وکړه او د جنت زیری هم ورته ورکړه لیکن په دی باندی به په دیناکی یو مصیبت راځی ،چی مونږ وکتلی نو هغه عثمان رضی الله عنه وو.

(أن النبي صلى الله عليه وسلم دخل حائطاً، فأمرني بحفظ باب الحائط، فجاء رجل يستأذن، فقال: ائذن له وبشره بالجنة، فإذا هو أبو بكر، ثم جاء آخر يستأذن، فقال: ائذن له وبشره بالجنة، فإذا هو عمر، ثم جاء آخر يستأذن فسكت هنيهة ثم قال: ائذن له وبشره بالجنة على بلوى تصيبه، فإذا عثمان بن عفان رضي الله عنه وأرضاه)

(سبق تخريجه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲ـ عثمان رضی الله عنه ته نبی صلی الله علیه وسلم د شهادت زیری ورکړی وو چی ته به شهیدکیږی :

انس رضی الله عنه فرمایی: یو ځل نبی صلی الله علیه وسلم د احد غره ته وخته ،او ابو بکر عمر او عثمان هم ورسره ملګری وو ،نو غر په خوځیدو شروع وکړه نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ای احد غره په ارام شه ځکه پتا باندی یو نبی یو صدیق او دوه شهیدان ولاړ دی .

أن أنساً حدثهم قال: (صعد النبي صلى الله عليه وسلم أحداً، ومعه أبو بكر وعمر وعثمان فرجف، فقال: اسكن أحد! فإنه ليس عليك إلا نبي وصديق وشهيدين)

الراوي : رجل | المحدث : الهيثمي | المصدر : مجمع الزوائد

الصفحة أو الرقم: 93/9 | خلاصة حكم المحدث : رجاله رجال الصحيح

## ۳ـ د عثمان رضی الله عنه دا فضیلت چی نبی صلی الله علیه وسلم ورته خپلی دوه لورګانی په نکاح کړی وی

چی یوه رقیه ام بله ام کلثوم وه دی وجی نه هغه ته به یی ذی النورین ویل او نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی ووکه چیرته زما دریمه لور وی هغه می هم تاته په نکاح درکوله

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴ـ عثمان رضی الله عنه انتهایی حیاناک انسان وو دی وجی نه نبی صلی الله علیه وسلم به تری هم حیاکوله او فرمایل به یی فریشتی دده نه حیاکوی :

حدیث کی راځی نبی صلی الله علیه وسلم یو ورځ ناست وو او خپله پنډی یی ښکاره کړی وه نو دیکښ ابو بکر راغلی اجازت یی وغوښته اجازت یی ورته وکړ بیا عمر حالانکه نبی صلی الله علیه وسلم په خپل ځای باندی ناست وو او پنډی یی هغه شان ښکاره وه پدیکښ عثمان راغلی نو نبی صلی الله علیه وسلم خپله پنډی پټه کړه ، کله چی ټول رخصت شول عایشه رضی الله عنه وویل: ای د الله رسول زما پلار او مور دی تانه قربان شی ،ابو بکر اجازت وغوښتو بیا عمر دواړه داخل شول لیکن تا پنډی پټه نکړه کله چی عثمان راننوته تا پنډی پټه کړه؟هغه وفرمایل : زه به ولی د هغه کس نه حیا نه کوم چی ملایکی ترینه حیا کوی.

(أن النبي صلى الله عليه وسلم جلس وكان قدكشف فخذه، فدخل أبو بكر يستأذن فأذن له، ثم استأذن عمر فأذن له فدخل، والنبي صلى الله عليه وسلم لم يتحرك من مكانه ولم يغط فخذه، ثم دخل عثمان فغطى النبي صلى الله عليه وسلم فخذيه، فلما خرجوا جميعاً قالت عائشة: يا رسول الله بأبي أنت وأمي إن أبا بكر قد استأذن فدخل ثم عمر استأذن فدخل ولم تغط فخذك، فلما دخل عثمان غطيت فخذك! فقال: ألا أستحي من رجل تستحي منه الملائكة؟!).

الراوي : عبدالله بن عمر | المحدث : ابن عدي | المصدر : الكامل في الضعفاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



الصفحة أو الرقم: 427/1 | خلاصة حكم المحدث : هذا الإسناد لا يرويه غير إبراهيم بن عمر بن أبان وأحاديثه متقاربة

بعضي تاريخ بيانونكو ليكلي چې كله به عثمان رضى الله عنه غسل كولو نو ځانته به يې ځاى تورتم كړ تر دى چې خپله شرمګاه ونه وينى .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د علي رضی الله عنه فضایل

## ۱ـنبی صلی الله علیه وسلم هغه ته خپل دوست ویلی وو او چی څوک د علی سره دوستی او مینه لری نبی صلی الله علیه وسلم د هغه سره مینه لری:

عن بريده قال: غزوت مع علي اليمن فرأيت منه جفوة فلما قدمت على رسول الله صلى الله عليه وسلم، ذكرت عليا فتنقصته فرأيت وجه النبي صلى الله عليه وسلم يتغير، فقال يا بريدة: ألست أولى بالمؤمنين من أنفسهم؟ قلت: بلى يا رسول الله، قال: من كنت مولاه فعلي مولاه

الراوي : أبو هريرة | المحدث : الهيثمي | المصدر : مجمع الزوائد

| الصفحة أو الرقم: 108/9.

بریده رضی الله عنه فرمایی: زه د یمن په جنګ کی د علی رضی الله عنه سره ملګری وم نو ما د هغه نه څه بی وفایی محسوسه کړه چی کله زه واپس شوم ما نبی صلی الله علیه وسلم تته دغه واقعه ذکرکړه او د علی رضی الله عنه عیبونه می بیان کړل نو ما وکتل چی د نبی صلی الله علیه وسلم مخ تک سور شو ( د غصی د وجی نه ) او ویی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وفرمایل: ای بریده :ایا زه باید ټولو مسلمانانو ته د خپلو ځانونو نه ډیرګران نه یم؟ما وویل ولی نه  ای د الله رسول:هغه وفرمایل: که څوک غواړی چی زما سره سره محبت وکړی هغه دی د علی رضی الله عنه سره محبت وکړی .

## ۲- په ټول امت کی علی رضی الله عنه د ټولو نه مخکی د مونځ فریضه ادا کړی ده :

چونکه په ماشومانوکی علی رضی الله عنه اول مسلمان شوی وو او هغه د نبی صلی الله علیه وسلم په کفالت کی وو نوکله چی مونځ فرض کړی شو او نبی صلی الله علیه وسلم د معراج نه راواپس شو نو د ټولو نه مخکی یی علی رضی الله عنه ته د مونځ حکم وکړ او په ټول امت کی علی رضی الله عنه په اول کی مونځ ادا کړ:

عن ابن عباس - رضي الله عنهما - قال: أول من صلى علي - [۲] (المسند" (1/ 330 - 331 رضي الله عنه -

ابن عباس رضی الله عنهما فرمایی: د ټولو صحابه و نه مخکی علی رضی الله عنه مونځ ادا کړی وو.

## ۳- د علی رضی الله عنه فضیلت دا هم دی چی نبی صلی الله علیه وسلم خپله لور فاطمه چی ډیره ورته ګرانه وه هغه ته په نکاح ورکړی وه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



عن بريدة الأسلمي - رضي الله عنه - قال: خطب أبو بكر وعمر - رضي الله عنهما - فاطمة , فقال رسول الله - صلى الله عليه وسلم -: " إنها صغيرة " , فخطبها علي , " فزوجها منه

" :س) 3221، (حب) 6948، انظر المشكاة: 6095، صحيح موارد الظمآن)

بريده رضی الله عنه فرمایی: ابو بکر او عمر د فاطمه رضی الله عنها سره د نکاح درخواست وکړ لیکن نبی صلی الله علیه وسلم هغوی جواب کړل چی هغه وړه ده ،بیا علی رضی الله عنه وغوښتله نو نبی صلی الله علیه وسلم ورته په نکاح باندی ورکړه .

## ۴ـ د هغه دا شرف چی د خیبر په ورځ ورته نبی صلی الله علیه وسلم د جنګ جنډه ورکړی وه او د هغی ورکولو نه مخکی یی فرمایلی وو چی زه به سبا له د جنګ بیرغ هغه چا ته ورکوم چی الله او رسول ورسره مینه لری بیا یی سبا ته حضرت علی رضی الله عنه ته ورکړه :

عن ابن عمر - رضي الله عنهما - قال: لقد أوتي ابن أبي طالب - رضي الله عنه - ثلاث خصال، لأن تكون لي واحدة منهن , أحب إلي من حمر النعم: " زوجه رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ابنته , وولدت له، وسد الأبواب في المسجد إلا بابه، وأعطاه الراية يوم خيبر

(حم) 4797، (ش) 32099 , (ت) 3732، صححه الألباني في ظلال الجنة: 1198 "

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن عمر رضی الله عنه فرمایی: علی رضی الله عنه ته دری خصوصیات میلاو شوی وو که د هغی نه یو هم ماته میلاو شوی وی نو د حمر قبیلی د خرو نه به ماته بهتره وی :نبی صلی الله علیه وسلم ورته خپله لور ورکړی وه ،هغه مسجد ته ټولی دورازی بندی کړی وی مګر د علی رضی الله عنه دروازه یی کولاو پریخی وه ،د خیبر په ورځ یی هغه ته د جنګ بیرغ ورکړی وو.

## ۵ـنبی صلی الله علیه وسلم هغه ته ابو تراب لقب ایخی وو او هغه به ددی لقب سره بیا ډیره مینه کوله :

عن سهل بن سعد الساعدي - رضي الله عنه - قال: (إن كانت أحب أسماء علي - رضي الله عنه - إليه لأبو تراب، وإن كان ليفرح أن يدعى بها، " وما سماه أبو تراب , إلا رسول الله - صلى الله عليه وسلم - "، غاضب يوما فاطمة - رضي الله عنها - فخرج فاضطجع إلى الجدار إلى المسجد) فجاء رسول الله - صلى الله عليه وسلم - بيت فاطمة , فلم يجد عليا في البيت , فقال: أين ابن عمك؟ " , قالت: كان بيني وبينه شيء فغاضبني , فخرج فلم يقل عندي فقال رسول الله - صلى الله عليه وسلم - لإنسان: " انظر أين هو " , فجاء فقال: يا رسول الله هو في المسجد راقد , " فجاء رسول الله - صلى الله عليه وسلم - " - وهو مضطجع , قد سقط رداؤه عن شقه فأصابه تراب - " فجعل رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يمسحه عنه ويقول: قم أبا تراب , قم أبا تراب

(c) ketabton.com: The Digital Library



خ) 5851 (2) أي: لم ينم عندي في فترة الظهيرة. (3) أي: علي. (4) (خ) 5924 , ) ((م) 38 - (2409

سهل بن سعد رضی الله عنه فرمايی: علی رضی الله عنه ته په خپلو نومونوکی ابو تراب نوم ډیر محبوب وو او هغه به خوښه ګڼڕله چی پدی سره راوبللی شی ،هغه ته دا نوم نبی صلی الله علیه وسلم اختیارکړی وو،

یوه ورځ یی د فاطمه رضی الله عنه سره څه خفګان راغلی نو لاړی او د مسجد یو دیوال ته یی ډډه ولګوله ،پدیکښ نبی صلی الله علیه وسلم د دفاطمه کور ته راغلی ویی کتل چی علی نشته ،تپوس یی وکړ چی علی چیرته دی ؟ هغی وویل:زما سره یی بحث وو د هغی په وجه غصه شو او بهر ووته دلته ما سره یی قیلوله هم ونکړه ،نبی صلی الله علیه وسلم یو صحابی ته وویل وګوره چی هغه چیرته دی ،هغه وکتل او ویی ویل ای د الله رسول په مسجدکی پروت دی ،نبی صلی الله علیه وسلم راغلی ویی کتل چی مسجدکی پروت دی او څادر یی د بدن نه پریوتلی دی بدن یی په خاورو ناولی شوی دی،نو نبی صلی الله علیه وسلم دهغه د بدن نه خاوری پاکی کړی او ویی فرمایل: ای ابو تراب پاڅه ای ابو تراب پاڅه

( د ابو تراب معنی ده د خاورو پلار)

## ۶ـ الله رب العزت علی رضی الله عنه ته په فیصله او قضاوت کی مهارت ورکړی وو او ډیر ښی فیصلی به یی کولی دی وجی نه هغه د صحابه په وخت کی قاضی مقرر وو

(c) ketabton.com: The Digital Library


عن ابن عباس - رضي الله عنهما - قال: قال عمر - رضي الله عنه -: أقرؤنا أبي، [۲۷] وأقضانا علي. (1)

خ) 4221 )

عمر رضی الله عنه فرمایی: په مونږکی د قران ستر قاری ابی بن کعب دی او په قضاوت کی علی رضی الله عنه د ټولو نه ډیر پوهه دی .

## ۷- د نبی صلی الله علیه وسلم لپاره د علی رضی الله عنه قربانی :

کله چی نبی صلی الله علیه وسلم د هجرت اراده وکړه او مشرکانو غوښتل چی هغه لره قتل کړی نو نبی صلی الله علیه وسلم او ابو بکر رضی الله عنه دشپی ووتل او علی ته یی حکم وکړه چی ته به سازو سامان په ځای کړی او بیا به مونږ پسی وروسته راشی او نن شپه به ته زما په کټ کی ویده شی نو مشرکانو په نبی صلی الله علیه وسلم باندی دشپی په کټ کی د حملی اراده وه چی وپی کتل هغی کی علی رضی الله عنه پروت وو او نبی صلی الله علیه وسلم د هغه ځای نه د مدینه په طرف تللی وو .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**